## په کابل او د هیواد په ځینو لویو ښارونو کې د هوا د ککړتیا لاملونه او د پاکوالې لارې چارې یې

په کابل کې د کال په هره ورځ که چیرې متوجه شـــې نو کوڅو کې به هوا دودغړنه او گردجنه وی، دغه دودغړنه او گردجنه هوا د ټولو کابل میشتو په مخونو سریښیږی، سترگې یې سوزوی، او لاسونه یې ناولی کوی. موټر په گردونو لمبوی. او د کابل شاوخوا غرونه پکې نه لیدلی کیږی.

په کابل کې د لیدو اندازه چې په کال ۱۹۸۰ م کې نامحدوده وه اوس د کال په ډیریو ورځو کې کابو۱۰۰ مترو ته محدوده وی. کابل اوس مهال د نړی تر ټولو ککړو ښارونو په کتار کې ځای لری.

په کابل کې د ککړې هوا له امله د وگړو د وژل کیدو شـــمیر نظر د طالبانو، بهرنیو ځواکونو، حکومتی ځواکونو، زورواکانو او غلو د وژنو نه هم ډیر دی. د عامه روغتیا وزارت د خبرتیا له مخی کابو ۳۰۰۰ وگړی د ککړې هوا له امه په یو کال خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوی.

د بلک سمیت انستیتیوت، ټایم او ای بی سی چاپیریال ټولنی له خوا نه یوه څیړنه شوی چې د نړی ترټولو ډیر ککړ ښارونه یې په گوته کړی دی.

### د نړی ترټولو ډیر ککړ ښارونه:

1. د لینفین ښار په چین هیواد کې. د لینفین د چین د ډبرو سکرو ستری ذخیری لری، چې د ښار په شاوخوا کې د ډبرو د سکرو بې شمیره تصدی کار کوی. داسې ویل کیږی چې پدی ښار کې چې کله وینځل شوی کالی په تناب خپاره شی نو تر وچیدو پوری د کالیو رنگ توریږی.
2. د سوکیندا ښار په هندوستان کې: د غه ښار د هند ۹۷٪ د کرومیتو کانونه لری چې د دغو کانونو د استخراج له امله یې په هوا، خاوره او دڅښاک اوبو کې یو نوعه زهرجن مواد چې کرومیم هکزاولینت ورته وایی گډ شوی دی.

3. د لااورویا ښار په پیرو هیواد کې: د کانونو له نظره خورا ډیر بډایه ښار ده چې ددغو کانونو د استخراج له امله کوم دودونه هوا ته پورته کیږی، او چټل مواد یې په ځمکه کې خاوره او اوبه چټلوی.

**که دغه پورتنیو دریواړو ښـــارونو ته وگورو نو د ککړتیا علت یې د کانونو موجودیت ده په دغو ښـــارونو کې خو کابل ددی ښـــارونو نه برعکس د نورو عواملو له امله ککړ دی، چې په لاندی توگه دی:**

1. ډیر گردجن سړکونه
2. د شـــاوخوا۶۰۰۰۰۰ موټرو موجودیت دی چې دغه موټر د کابل په کچه سرکونو او کوڅو کې د ناغیړه موټرچلونکو له امله ډیر زیات گرد او دوړه هوا ته پورته کوی، او همدارنگه ددغو موټرو شاوخوا ۸۰٪ زاړه دی او د نړیوال معیار

نه ټیټ دی چی په نوره نړی کی دا شـــان موټر د ګرځیدو اجازه نه لری، چی دا موټر ډیر زیات دود کوی او دغه دود هوا ته پورته کیږی.

3. د پلاستیکو، سوی مبلینو، ټیرونو او ډیزلو نه د سوخت لپاره ګټه اخیستنه، چی ددی شیانو سوخت په ژمی خپل اعظمی حد ته رسیږی.
4. د کابل ښار د کا سه په توګه د غرونو په وسیله سره حصار شوی دی چی دغه شاوخوا غرونه ددی عامل ګرځی ترڅو ګرد او دود پری نږدی چی د کابل له ښاره ووځی.
5. د غیر معیاری تیلو نه کار اخیستنه.
6. په ډیریو وختونو کی د بریښنا د نه موجودیت له امله د جنریترونو نه ګټه اخیستنه.
7. د ډبرو سکرو او لرګیو استعمال د پخلی لپاره او په ژمی کی د کورونو د ګرمولو لپاره
8. د ونو پریکول، د شنه سیمی کمیدل او د زراعت له منځه تګ.
9. د وګړو ناغیړی د خپلو کورونو خځلی او نور ګند په خلاسه ساحه کی غورځول.
10. د نفوس زیاتوالی

په کابل کی د نفوسو شـمیرپه ډیره کمه سـیمه کی ډیر زیات دی، چی دغه تراکم د نفوس ددی باعث ګرځیدلی چی د کابل غرونه، غونډی او شنی ساحه په مسکونه سیمو تبدیلی شی. د کابل ښار د چټلو اوبو او موادو د ایستلو لپاره کوم سـیسـتم موجود ندی چی له دی امله دغه چټلی په کوڅو کی د ویالو د بندیدو سـبب ګرځی او په بارانی ورځو کی د باران اوبه دغه چټلی سرکونو ته انتقالوی، چی وروسته د خلکو او موټرو د ګرځیدو له امله دغه چټلی د پوډر شکل ځانته اختیاروی او کله چی ختمی وچی شی دغه پوډر د موټرو او باد په وسیله سره هوا ته پورته کیږی. چی وروسـته یی مونږ ټول تنفس کوو. چی دعامه روغتیا د وزارت د راپور له مخی کابو ٪۸۰ سـلنه ناروغان د کابل روغتونونو کی دهمدغی ککړی هوا د تنفس کولو او ککړو اوبو د څښلو له امله دی.

د کابل د ښـــاروالی د راپور له مخی په کابل کی هره ورځ کابو ۲۰۰۰ مترمکعب جامد کثافات تولیدیږی چی ښاروالی یی یواځی د ۴۰۰ مترمکعبو پاکولو ظرفیت لری او باقی نور په ښار کی پاته کیږی.

د کابل په هوا کی مختلفی زهری مادی او غازونه خپاره دی چی په لاندی جدول کی یی مونږ کچه، د رامنځ ته کیدو عوامل او تاثیرات واضح کړیدی.

په کابل کی د هوا د ککړتیا دغه حالت زړه بوګنونکی دی او که چیری همداسی دوام وکړی نو شونی ده چی د ککړتیا له امله د مړینو کچه ډیره لوړه شی.

**د هوا اوبو پاکول د دی ککړتیاو نه شونی ده خو ډیر ستونزمن هم ده چې په لاندی تدابیرو سره امکان لری:**

1. کوم تیل چی هیواد ته را واردیږی، هغه باید د نړیوال معیار سره برابر وی او د ټیټ معیار لرونکو تیلو له واردولو څخه مخنیوی وشی.
2. د سوی مبلینو، لرگیو، د ډبرو سکرو، پلاستیکو او د ټیرونو د سوزولو نه مخنیوی وشی او په بدل کی یی خلکو ته د گاز او بریښنا اسانتیاوی محیا شی. چی دا ډیروخت او ډیری پانگه ته اړتیا لری . کچه سرکونه او کوڅی باید ټولی پخی کړای شی.
3. په زړو او نړیوال معیار نه ټیټ موټر باید کباړ کړی شی او په ښار کی د تگ را تگ اجازه ونلری.
4. د اوسنی ښار سیمه پراخه کړی شی او هغه خلک چی په غیر پلانی سیمو کی پراته دی ور انتقال شی. او د کابل ټولی شنی ساحه بیا ورغول شی.
5. په کابل کی باید په هر کور، کوڅه، د سرکونو غاړو او گلدانونو او همدارنگه په شنو ساحو کی نیالگی ولگولی شی.
6. دغه پورتنی لاری چاری چی کومی وړاندی شوی عملی کول یی خورا ستونزمن دی او ډیر وخت ته هم اړتیا لری، او یوائی د حکومت په وس هم پوره ندی، باید ټول وگړی برخه پگی واخلی.

# ه کابل کې د هوا ککړتیا څومره خطرناکه ده؟

- عبيدالله رحيمي مشوانی
- کابل

۱۱ مرغومی ۱۳۹۷ - ۲ جنوري ۲۰۱۹



**د نړیوالو معیارونو په نسبت د کابل ښار هوا څو واړې ککړه شوې چې د ښاریانو ژوند یې د خطر سره مخ کړی.**

په افغانستان کې تر ننه د هوا ککړتیا خطر ته پام وړ پاملرنه نه ده شوی، بلکې د چاپیریال په اړه خورا ډیر تمرکز د طبیعی منابعو د بې قانونه استخراج امنیتي اړخونو ته شوی.

څکه خو نوي اټکلونه ښیي چې ککړه هوا هر کال زرګونه کسان وژني او ممکن اوس په افغانستان کې ککړتیا د وسله والو شخړو پرتله ډیر خلک وژني.

د چاپیریال ساتنې ملي اداره (NEPA) خبرداری ورکوي چې په کابل ښار کې د هوا ککړتیا زیانمنوونکي کچې ته رسېدلې.

*افغانستان کې لومړی ځل د هوا ککړتیا معلوموولو الې چمتو کېږي

*کابل کې د هوا ککړتیا حکومت د کاري ساعت بدلولو ته اړ کړ

د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) اټکل له مخې په افغانستان کې ۲۶ سلنه مړینې د هوا ککړتیا له وجې رامنځ ته کیږي.

بل پلو ته، د ګلوبل هوایي پروژې د روغتیا اغیزانستیټیوټ وروستي راپور اټکل کړی و چې په ۲۰۱۶م کال کې به په افغانستان کې ککړه هوا ۵۱،۶۰۰ وګړي ووژني، چې دا به په نړۍ کې د هوا ککړتیا ترټولو بدترین حالت وي.

د عامې روغتیا وزارت په وینا، په کابل کې د هوا ککړتیا هر کال د ۳۰۰۰ څخه ډیرو خلکو ژوند اخلي.

## کوم شیان هوا ککړوي؟



د چاپیریال ساتنې لپاره د سیاسي ارادې نه شتون ،جغرافیایي موقعیت، په کابل ښارکې د چاپیریال په برخه کې د هوا ککړتیا ته کمه پاملرنه، د بریښنا کمښت او د نفوسو ډیروالی د دې لامل شوی چې دا ښار د ککړو ښارونو په لیست کې یاد شي.
د کابل ښار غونډۍ او تپې چې باید د ښار د شین والې او ښکلا موجب گرزېدلې وی نن په بې پلانه او بې معیاره کورونو پوښول شوې.
هوایی نظریه (Air Visual) بنسټ د تازه څېړنې په اساس کابل د هوا د پاکوالي له امله د نړۍ په کچه ککړ ښار یاد کړی، چې د ککړتیا عوامل یې د نفوسو زیاتوالی او په یوشمېر فابریکو کې د خرابو موادو موجودیت بلل شوی دی.
څېړنې ښیې چې د معلقو ذرو غلظت په څنگ کې شین کوریز گازونه، لیډ، کاربن مون اکساید، سلفر ډای اکسایډ، نایتروجن ډای اکسایډ، سرب او اوزون د کابل د هوا د ککړېدو لاملونه دي.

*ککړه هوا د نوزېږو ماشومانو مغز ته زیان رسوي

*د کابل چاپیریال ککړتیا په تړاو د ملي شورا غړو اعتراض

چې دا گازونه ، په موټرو کې د ټیت کیفیت تیلو کارولو ، په ښار کې د سړکونو خرابوالي، د خښتو د بټیو موجودیت، فابریکو، حمامونو او هوټلونو کې د لرگیو او نورو بې کېفیته شیانو سوځول، کورني جنریټرونه، د فاضله موادو سوځول لکه پلاستیک، سکاره او ربړونو سوځولو سره دا خطرناک گازونه هوا ته خارجیږي چې بیا ورسره هوا ککړیږي.

بل پلو ته د وګړو ډېروالي ته په کتو د ښار جوړونې نيمګړی پلان، د شنو سيمو نشتوالی، نامناسب ښاري کلتور، نه کاناليزاسيون، ځای ځای نامناسب ګاز پلورنځي هم د هوا ککړتيا لامل دي.
د متحد ايالتونو د چاپيريال ساتنې ادارې معيار له مخې، په هر متر مربع کې ۱۵ (ميکرون) ذراتو ته اجازه ده چې انسان ته زيان نه رسوي، خو د راپورونو له مخې اوس په کابل کې دا اندازه ۷۰۰ ميکرون ته رسېدلې چې دا په نوره نړۍ کې يو خطرناک بحراني حالت دی.
څېړونکې وايې دا بخري (ذرات) مستقيما د انسان د روغتيا سره تړلي دي چې دا د جسامت له پلوه خورا کوچني وي چې د ساه اخيستنې په مهال د پوزې او خولې له لارې بدن ته داخليږي په ننوتو د وينې جريان سره يوځای کېږي چې دا د سرطان، ساه لنډی، ليکيوميا، پنيموينيا، پيدايښي ناروغی، اتزم، زړه ناروغی، مخکې له زيږيدا د نوي ماشوم مړينه او ورته نورو مرضونو لامل هم ګرځي.

## د هوا ککړتيا د مخنيوي لارې



د ناروغيو د له منځه وړلو لپاره زموږ د هېواد هر وګړی مکلف دی چې چاپيريال ساتنه کې له هيڅ ډول هڅو نه ځانونه وه نه سپموی.
د هوا ککړتيا د مخنيوي تر ټولو اساسي حل دا دی چې د ککړتيا ټول اصلي لاملونه بايد ختم کړل شي، د سکرو او ټيټ کيفيت تيلو پرځای پاکه (رينيوبل) انرژي، لمر او باد وکارېږي.

همداسې د لویو پروژود چاپیریال ارزونې پرمهال د هوا کیفیت ته ډیر پام وکړل شي، د بیلګې په توګه، د الوتکو او نوري لویې لارې باید له استوګنځیو ډېرې لرې وي.
د چاپیریال ساتنې څېړونکی انجنیر کبیر په دې باور دی چې د لاندې وړاندیزونو پلي کولو سره د ښار چاپېریال بېرته پخواني خپل حالت ته راوستلی شو، باید پسرلي ته د ښار چاپیره ۱ میلیارد نیالګي کښنول شي.
د دولتي ترانسپورټ منظم کولو سره باید په ښار کې د شخصي موټرانو تعداد کم کړی شي او د تېلو په واردولو کې دې کیفیت کنټرول شي.
د ښار شا اوخوا چې کومې د خښتو بټۍ په زوړ تخنیک تولید کوي، مالکین یې باید دې ته مجبور شي چې خپلې بټۍ د نوي تخنیک سره عیارې کړي او د دود د تصفیې لپاره ځانګړي استندردونه مراعات کړي.



باید په هر کچه عامه پوهاوي ته کار وکړل شي، ښاریانو ته د چاپېریال ساتنې ارزښت او اړتیا او مسوولیتونه وروښودل شي.
په مکتبونو، لیسو او پوهنتونو کې د چاپېریال ساتنې ورځې ولمانځل شي، سېمېنارونه، ورکشاپونه ترتېب شي، د چاپېریال ساتنې رضا کار تربیه شي.

## سرچینې


1. https://larawbar.net/35759.html#.X1AKcNIrJdg
2. https://www.bbc.com/pashto/science-and-technology-46733333